# د مغلو مکتبونه

دوهمه برخه

حضرت زبېر زبېر

لکـه د دې صـوبې د لسـم د نتيجـې د پېښـور ګزټ راواخلئ نو وګورئ پوره نقشه به درته وړاندې شي. تاسو ته به د دې ښاغليو او مېرمنو پته ولګي. يوه علاقه نۀ ده کنه داسې بې شمېره کلي باندې او ښارېي، لارې کوڅې او د هرې تعليمي ادارې نه به خبر شئ چې هلته د پښتو مضمون کتل داسې دي لکه "هنداونو کره چې قرآن ګورې".

بله بدې دې بورډ واله هم کړې ده چې په دغې ګزټ کښې تاسو وګورئ چې په کال ۲۰۰۰ء کښې چې د لسم کومو طالب علمانو پښتو د يو اختياري مضمون په حېث وئيلې ده نو د پاس کېدو شرح ئې ۹۱.۳۵ ده. بيا چې په ۲۰۰۱ءکښې **۲۱۲۵۹** طالب علمانو امتحان کښې برخه اخستې ده د پاس کېدو شرح ئې ۷۷ فيصده ده او په کال ۲۰۰۲ء کښې **۲۹۲۲۷** طالب علمانو دغه مضمون وئيلے دے، په هغې کښې **۱۹۲۷۱** هلکان جينکۍ پاس شوي دي. دوې ئې د پاس کېدو شرح ۲۲ فيصده ښودلې ده.

دا خو د دې بورډ واکمن دا خبره ثابتوي لکه چې پښتو يو ډېر ګران مضمون دے ځکه خو ورله کال په کال د پاس کېدو شرح راغورځوي او کۀ چرې داسې وي چې کال په کال دا مضمون ګرانېږي او د پاس کېدو شرح ئې راغورځېږي نو دا بيا خبره د هغې بې حسه استاذ سر له ځي.

ربښتيا خبره دا ده چې زمونږ په سکولونو او د تعليم سره سره په تړلو شوو نورو دفترونو او ادارو کښې چې څوک هم د خپلې مورنۍ ژبې سره بدنيتي او ډېر ناولے سلوک کوي نو هغوي به د خپلو مېندو سره هم دغه رنګې رويه لري، ځکه چې دا ژبه د يو سړي يا د يوې قبيلې ژبه خو نۀ ده، د هرې مور نه خپل بچي زده کړې ده او دا مو د مېندو ژبه ده. ولې ئې د ورکولو موقعې پېدا کوئ.

"زۀ همېشه د يوې ژبې په ورکېدو ډېر سخت خفه کېږم ځکه چې ژبې د قامونو د خاندانونو او د نسل و نسب بنياد دے".

سموئل جانسن (۱۷۹۲-۱۷۰۹)

په خپله مورنۍ ژبه کښې زدکړه کول د هر قام قدرتي، فطري، مذهبي، اخلاقي، 'ائيني او جمهوري حق دے. په ننۍ زمانه کښې چې مونږ خپل خواوشا ګورو نو بې شمېره وطنونه زمونږ مخې ته دي چې د سائنس او ټېکنالوجۍ په مېدان کښې د امامتۍ په مصلا ناست دي. زمونږ او لکه زمونږ د نورو بې تعليمه قامونو لار ښودنه کوي. هغوي هيڅ کله هم د تعليم دپاره د خپلو مورنو ژبو نه علاوه بله يوه ژبه هم په کار نۀ ده راوستې.

"سوئزرلېنډ چې د دې زمکې په مخ يو جنتي ملک دے، د يورپ په مېنځ کښې پروت دے. د

کال نولس سوه دوه اتیایم (۱۹۸۲ء) د اعداد و شمار مطابق د دغې ملک ابادي درې شپېتۀ لکه پنځۀ شپېتۀ زره (۲۳۶۵۰۰۰) وه په دغې وطن کښې د هغوي خپلو څلورو قامي ژبو ته د سرکاري ژبو حېثيت ورکړے شوے دے. په دغې سرکاري ژبو کښې فرانسيسي، جرمني، اطالوي او رومانش ژبې شاملې دي. (اکسفوډر ريفرنس ډکشنري) د دغې وطن وګړي په خپلو خپلو مورنو ژبو کښې زدکړه کوي. اوس کۀ په دې ازاد او اسلامي جمهوري ملک کښې د دې ځائے د څلورو قامونو ژبو ته وکتے شي نو قيصه بل شان ده چې:

"د چا ئې ژبې غوڅې کړې دي څوک سر نۀ لري"

(جهاني)

يو خوا کۀ د نړۍ ټول ترقي يافته هېوادونه په دې حق کښې دي چې تعليم په مورنۍ ژبه کښې پکار دے نو بل خوا د اقوام متحده ذيلي ادارې يونيسکو هم د دې جهان هر وړوکي له دا حق ورکړے دے.

زمونږ قامي مشرانو هم په دې غور و فکر کړے دے، پس له هغې ئې په ډانګ پېيلې وينا کړې ده چې:

"په جبل خانه کښې ما د خپل قام په حالاتو په ښۀ شان غور وکړو. زۀ په دې نتيجه ورسېدم چې په دنيا کښې هيڅ يو قام بغېر د خپلې ژبې نه ترقي نۀ شي کولے او په هغوي کښې علوم او فنون پېدا کېدے نۀ شي. (باچا خان، د بابا د فکر مشالونه)

زمونږ د دې خاورې هره يوه واکمنه ډله معترف ده او دعویٰ هم کوي چې دلته د خواندګۍ شرح ډېره کمه ده او د دې صوبې ګورنر سېد افتخار حسېن شاه خو دا خبره هم کوي چې:

"پښتو ژبه په يو څو قديمو ژبو کښې شمېرلے شي او يو بين الاقوامي شناخت لري. بې شکه چې د شعر و ادب او صحافت سره وابسته افراد او ادارې په خپل ځاني د پښتو ژبې د تحفظ د پاره کوششونه کوي، دا کافي نۀ دي ځکه چې ژبې يواځې په کتابونو او لُغتونو کښې محفوظ نۀ پاتې کېږي. بلکې په صحيح ډول ژبه په وئيلو ترقي مومي. په دې لړ کښې ټولو پښتنو له په شريکه خپلې ژبې له وده ورکول پکار دي. پښتو وئيلو، لوستلو او خورولو له د توجه ورکولو ضرورت دے.

(درې مياشتنۍ تاتره جولائي ستمبر ۲۰۰۳ء)

دوي په دې خبره ولې نۀ پوهېږي او نۀ ئې منلو ته تيار دي چې د علم نه ترقي او ترقۍ نه يو ملک ته د خوشحالۍ او سوکالۍ ژوند ترلاسه کېږي او دا چې:

هر علم دې بې کاره بې له ژبې مورنۍ نه
پښتو د جنت ژبه ده راغلې له پاک خدائے نه
څۀ روغ زړګے به لاړ شم زۀ اکبر د دې دنيا نه
الله کۀ پښتون خلاص کاندي له هرې غلامۍ نه

(عبدالاکبر خان اکبر-ادبي پنګه)

اوس هم وخت شته کۀ چرې په دې خبرو عمل وشي او زمونږ د ملک دانشور او پوهان ځان پوهه کړي چې دغې د پردو ژبو د زدکړې سره علم نۀ حاصلېږي او زمونږ په سرکاري او پرائيوټ ټولو تعليمي ادارو کښې د علم وفکر د تخليق و تحقيق څانګې وچې شوې دي. ځکه چې د تعليم مقصد خو خپل کلتور، تهذيب او تمدن خپلو وارثانو ته سپارل دي. زمونږ د خپلو استاذانو صاحبانو سره يا د نن وخت ډګري يافته وګړو سره تقريباً ټول په ټول

داسې دي چې د دې چاپېرچل يا د دې معاشرې د خپل ثقافت او تاريخ علم ورسره ببخي نشته. مونږ ټول د پردو ژبو په شور ماشور کښې د پردو خلقو په نامو او کارنامو کښې له ځانه بې درکه شوي يو. دلته په دې مکتبونو کښې د دې خاورې په بچو د پردو ژبو د زده کولو ياد زوتولو ناکامه هڅې کېږي. ناکامه په دې چې تاسو په خپله سوچ وکړئ چې يو هلک په نن دور کښې شپاړسم پاس کړي او هغه بله کومه ژبه په روانۍ سره وئيلے شي نو مونږ وايو دا تعليم يافته دے خو داسې نۀ ده کۀ چرې زمونږ د وطن يو کرونده ګر جاهل د پېرنګي په ملک کښې څو کاله تېر کړي او په ستنه راشي دلته په انګرېزۍ ژبه کښې خبرې اترې کولے شي نو دغه کرونده ګر چرې هم عالم نۀ شو ځکه چې ژبه زده کول ځان له څيز دے او علم حاصلول ځان له.

دلته خو دا خبره هم ضروري ده مونږ کۀ وګورو نو د اعلي تعليم "انګرېزۍ" سند اخستونکے وګړے د دغې ژبې يو عام روايتي خط يا درخواست قدرې هم سم نۀ شي ليکلے. مونږ په امروزه ژوند کښې وينو ګورو چې کوم هلک يا جينۍ د خپل قابليت اندازه واخلي چې زۀ په انګرېزۍ ژبه کښې ماسټر سند (M.A) ترلاسه کولے شم او په دې ژبه پوره عبور لرم. هر کله چې خبره امتحان ته شي نو په سلو کښې درې يا څلور کسان داسې وي چې په وړومبي کال ټول په ټول امتحان پاس کړي، ګني نو په کلونو کلونو ورپورې نښتي وي او خبر دے تاسو خپله د پېښور يونيورسټۍ د انګرېزۍ نتيجې (ګزټونه) وګورئ يو کال خو په ټوله صوبه کښې صرف څلور کسان پاس شوي وو.

لنډه خبره دا ده چې زمونږ په پښتو ژبه کښې دا طاقت او قوت شته چې د هر قسمه علمونو زدکړه پکښې کېدے شي.

زمونږ د ملک د تعليم ماهرانو له پکار دي چې د جهل له تيارو نه راوځي او دا کۀ سياسي، سرکاري او کۀ اولسي مسئله ده، د دې د حل کولو د پاره لارې چارې وټاکي چې پښتو ژبه د تعليم ذريعه وګرځي. عامو پښتنو وګړو ته دا فکر رسول غواړي چې ستاسو ثقافت د راتلونکي نسلونو وراثت دے، ستاسو ثقافت، قوميت او ژبه ژوندۍ نۀ شي پاتې کېدے، تر څو چې دا ژبه د تعليم ذريعه ونۀ ګرځي او بله لويه خبره دا ده چې په هره مدرسه کښې د هر مضمون د پاره د استاذ ځائے شته لکه د ډرائنګ د پاره (D.M) د ډرل او پي ټي د پاره (P.E.T) د عربۍ د پاره (A.T) د قاري د پاره (T.T) خو د پښتو ښودلو د پاره دا ځائے نشته او د دې کروړونو پښتنو نه ئې د روزګار دغه ذريعه شُوکولې يا غصب کړې ده. دا خبره خو د دې خاورې د اولس د پاره ډېره د بې حسۍ او بې ننګۍ ده چې ستا د خپل کلي په مدرسه کښې ستا د ژبې د روزګار ځائے ورک دے او د دغې مدرسو په کتب خانو کښې د نورو ژبو کتابونه په دلو دلو پراتۀ دي خو د نظر ماتي د پاره پکښې د دې ژبې يو کتاب هم په نظر نۀ راځي. ډېر د بې خوندۍ مقام دے.

چې ئې ژبه شي فنا ملت فنا شي
په تاريخ کښې داسې ډېر دي مثالونه
نوے کُول به خپل ماضي نه منحرف کړي
پښتونخوا کښې د مُغلو مکتبونه

(سېف الرحمٰن سليم)